# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳٤٦ ګڼه / شنبه ۱۷ جماديالثانی ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۹ جدي ۱٤۰۲ هـ.ش / ۳۰ دسمبر ۲۰۲۳ میلادي


## قزاقستان پر اسلامي امارت لګول شوي بندیزونه رسماً لغوه کړل

د افغانستان لپاره د قزاقستان سفیر علیم خان یسین ګیلدییف د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست مولوي امیرخان متقي سره په کتنه کې د دغه هېواد له لوري پر اسلامي امارت د لګول شویو بندیزونو د لرې کېدو خبر ورکړی دی.

په کابل کې د قزاقستان سفیر په دغه کتنه کې له اسلامي امارت سره د مثبتو اړیکو لرلو له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې غواړي له افغانستان سره خپلې سوداګریزې او سیاسي اړیکې لا پراخې کړي.

نوموړي همدارنګه د خپل هېواد د بهرنیو چارو وزارت په استازولۍ خبر ورکړ، چې د قزاقستان سترې محکمې د افغانستان اسلامي امارت رسماً د هغې تحریم شوو ګروپونو له نوملړ څخه ایستلی، چې دوی پرې په خپله خاوره کې د فعالیت بندیز لګولی دی.

په ورته وخت کې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست په دغه ... ۷مخ

### مولوي عبدالکبیر:

## د هېوادوالو مالیات د افغانستان په بیارغونه لګول کیږي



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د کابل د سوداګرو او کسبګرو تولني له غړو سره لیدنه کړې.

په دې لیدنه کې د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال د سوداګرو او کسبګرو پر لاسته راوړنو، د هغوی پر وړاندې په شته ستونزو او د سوداګرۍ او صنعت په روان وضعیت خبرې شوې.

د یادې ټولنې غړو ویلي، چې د تېر په پرتله یې ستونزې کمې او اقتصادي رشد یې ښه شوی دی.

دوی د اسلامي امارت له لوري د رامنځته شویو اسانتیاوو او سیاسي ملاتړ له امله مننه کړې ده.

هغوی ویلي، چې لا هم د پاکستان په کراچۍ ښار کې د افغان سوداګرو د ګڼ شمېر کانتینرونو او مالونو نامعلوم برخلیک ورته زیان رسولی او اړتیا ده چې اسلامي امارت په دې برخه کې اقدامات وکړي.

یادو سوداګرو دغه راز د مالیې وزارت او کابل ښاروالۍ لخوا د مالیاتو د راټولولو د نیمګړتیاوو او سلنې د راټیټېدو په اړه خپل وړاندیزونه په لیکلي ډول د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال ته سپارلي دي.

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر افغان پانګوال او سوداګر ستایلي، چې افغانستان کې پانګونه او سوداګري کوي.

نوموړي ویلي، چې د هېواد اقتصادي پیاوړتیا له خصوصي سکتور پرته ناممکنه ده او زیاته کړې یې ده، چې حکومت د اسلامي اصولو پر بنسټ ټولو ... ۷مخ

## ډېر ژر به د تاپي پروژې عملي چارې پیل شي

د کانونو او پټرولیم وزارت مسوولین وایي، چې په نږدې راتلونکي کې به په هېواد کې د تاپي پروژې عملي چارې پیل شي. دغه وزارت زیاتوي، چې د تاپي پروژې د کارونو په اړه یې د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزارت سره خبرې پیل کړې دي. افغانستان به د دې پروژې له لارې هر کال کابو ۵۰۰



میلیونه ډالره د ترانزیټ او کله چې د تاپي پروژه بشپړه شي نو تر لسو کلونو به ۵۰۰ میلیونه متره مکعبه ګاز او تر ۲۰ کلونو پورې به یو میلیارد متره مکعبه ګاز ترلاسه کوي. د لومړیو څېړنو او شمېرو له مخې د تاپي ګازو پایپ لاین به هر کال ۳۳ میلیارده متره مکعبه ګاز لېږدوي. د خصوصي سکتور غړي هم د افغانستان په اقتصاد کې د تاپي د پروژې عملي کېدل اړین بولي.

### معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء:

## ده‌ها شرکت خواستار سرمایه‌گذاری در افغانستان شد

منابع در معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا می گویند که در سال روان خورشیدی، ده‌ها شرکت داخلی و خارجی خواستار سرمایه‌گذاری در بخش های مختلف شده اند.

حجم این سرمایه گذاری ها به ۱۰ میلیارد و ٦٥٤ میلیون دالر می رسد.



دفتر مطبوعاتی معاونیت اقتصادی، در خبرنامه‌یی نوشته است: امارت اسلامی زمینه برای سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی را در کشور فراهم کرده و در این راستا در سال روان خرشیدی ده‌ها شرکت داخلی و خارجی، خواستار سرمایه‌گذاری ... ص۷

## د کونړ په سلګونو بزګرانو د غنمو اصلاح شوي تخمونه ووېشل شول

مرکه



د کونړ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسولین وایي، د کونړ په بېلا بېلو والسوالیو کې د همکارو موسسو له خوا ۱۷ زره او ۹ سوه تنو بزګرانو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې وېشل شوي دي.

د کونړ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس مولوی شیر اقا پیر حبیب الرحمن شریعت ورځپاڼې خبریال ته په ځانګړې مرکه کې ویلي: د اسلامي امارت په راتګ سره د بزګرانو ډېرې ستونزې حل شوي او دا مهال د موسیساتو له لوري پروژې جریان لري.

ښاغلي پیر حبیب الرحمن زیاته کړه، چې د ټول ولایت په سطحه بزګرانو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه، شنې خونې، د سبزیجاتو تخمونه، نوي باغونه جوړ شوي او په مختلفو والسوالیو کې د همکارو موسیساتو له خوا ۱۷ زره ... ۷مخ

## سرپرست وزارت صحت عامه با سفیر جاپان دیدار کرد

داکتر قلندر عباد، سرپرست وزارت صحت عامه در دیدار با کورومیا تاکایوشی سفیر جاپان در کابل روی همکاری‌های مستمر آن کشوردر بخش صحت با افغانستان بحث کرد.

دفتر مطبوعاتی این وزارت، در خبرنامه‌یی نوشته است: دکتر قلندر عباد از کمک های جاپان با شفاخانه‌های تداوی امراض انتانی و افغان جاپان به نیکی یاد کرد و خواستار گسترش این گونه کمک ها با افغانستان شد.

سفیر جاپان نیز نسبت به کار مشترک و همکاری مستمر در عرصه صحت ابراز خرسندی کرد و گفت که آن کشور در آینده نزدیک ۱۳ عراده آمبولانس مجهز و کمک‌های صحی نیز برای افغانستان فراهم خواهد کرد.

## فراغت بیش از ۴۰ تن از برنامه تخصصی فریلانسینگ در کابل

گزارش

معینیت امور جوانان وزارت اطلاعات و فرهنگ با حضور مقامات بلند پایه امارت اسلامی، مراسم فراغت ٤٥تن اشتراک کنندگان برنامه تخصصی فریلانسینگ(کسب و کار آنلاین) را در کابل برگزار کردند.

هدف از راه اندازی این برنامه‌ی آموزشی، کاریابی آنلاین برای جوانان و توانمند سازی آنان گفته شده است.




مولوی خیر الله خیرخواه وزیر اطلاعات و فرهنگ که در این برنامه صحبت می‌کرد گفت که جای خوشی است که در هر ولایت برنامه‌های افتتاحیه ساخت و ساز و جشن فراغت از سوی پوهنتون ها، مدرسه ها و مکتب ها برگزار می‌شود. با وجود اینکه امارت اسلامی نو پا است اما هر روز شاهد ترقی در تمام بخش های ... ص۷

## سرمقاله

## د دې لوی ټولنیز فساد مخنیوی انتهايي ډېر ضروري دی!

په حقیقت کې دا ستونزه په ټوله افغاني ټولنه کې د خورا زیاتو فسادو جرړه ده. یوه داسې ستونزه چې هره کورنۍ، هر پلار، هر نارینه او هره ښځه ورسره مخ ده. د همدې ستونزې له امله خدای خبر زموږ څومره ژنې او زلمي د یونان او قبرس په دریابونو کې د نهنګانو خوراک شول، څومره د ګاونډیو او لیرې هېوادونو د سرحدي څوکیدارو ځواکونو په لاس پردېسۍ او نامرادۍ کې له ارمانونو په ډکو زړونو وهل شوي، بې پته شوي،وژل شوي او تر خاورو لاندې بې پوښتنې نادرکه پاتې شوي دي. د همدغې اجتماعي خپسې له لاسه زموږ هره پرګنه او هر کلي کې په زرګونو پېغلې رواني رنځونو سره مخ شوې، وژل شوې یا یې په خپل لاس خپل خواږه ځانونه له منځه وړي او خپل دنیا او آخرت یې تبا کړی دی. څومره مو اورېدلي او لیدلي، چې د همدغې فطري اړتیا او طبیعي حق په لړ کې سلګونو ځوانانو د خپلې خوښې جینکیو ته ناقانونه لاس اچولی او څومره پېغلې د خپلو پلرونو له کورو شپه په شپه وتلې او دا شان دوه کورنۍ بلکې دوه قومونه تر قتلونو رسېدلي او دښمنۍ یې آن لمسیانو او کړوسیانو ته پاتې شوې دي، دا لا څه هغه ګناوې، منکرات او فحشاوې، چې کورنیو کې د مجردانو او ناواده شویو ښځمنو د شتون له امله هره ورځ او هر شپه پېښېږي، یقیناً چې وبال او جریمه به یې د همدې ټولنو د پلرونو، وروڼو، میندو او همداسې د هېواد او سیمې د ګردو علماؤ، حاکمانو او ټولو هغو مخورو پر غاړه وي،چې د خپلو اولادونو د حلالې نکاح د مراسمو او شرایطو اسانه کولو لپاره هڅه، هاند،دعوت او وصیت نه کوي. ایا نه ګوري چې هره کورنۍ لوڼې او زامن ... ۷مخ

## کمک ٦/٢٤ میلیون دالری بانک توسعه اسلامی به افغانستان

بانک توسعه اسلامی یک بسته دیگری از کمک های خود با افغانستان را اعلام کرده است.

این بانک با ٢٤.٦ میلیون دالر، کمک جدید از ارائه خدمات صحی و تقوقت روند آموزش در افغانستان حمایت خواهد کرد.

بانک توسعه اسلامی قرارداد چندین پروژه را با نهادهای کمک‌رسان در زمینه امنیت غذایی، حمایت از بخش صحت و آموزش در افغانستان امضا کرده است.

این پروژه‌ها به ارزش ٢٤.٦ میلیون دالر از صندوق امانی بشردوستانه افغانستان، تحت مدیریت بانک توسعه اسلامی تمویل خواهد شد.

بانک توسعه اسلامی تاکنون سه قرارداد به ارزش ١٤ میلیون دالر را با کمیساریای عالی سازمان ملل در امور پناهندگان امضا کرده و این مقدار بودجه در زمینه آموزش، صحت و معیشت در افغانستان هزینه می‌شود و از آن ٢٤٠ هزار نفر مستفید خواهند شد.

به همین منوال، بانک یادشده، هشت میلیون دالر را برای تمویل پروژه‌هایی در زمینه دسترسی به آب پاک و خدمات صحی، در اختیار صندوق ... ص۷

## په کندهار کې د نوروزشاه برج او یخ کاریز ترمنځ د سړک جوړولو چارې پیل شوي

د کندهار ښاروالۍ مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې د ۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت د نورزو شاه برج او یخ کاریز ترمنځ نښلېدونکي سړک چارې پیل شوې.

د یاد سړک د چارو د پیل پرمهال د کندهار ښاروالۍ مرستیال مفتي قدرت الله وصال وویل، چې یاد سړک د خلکو د پرلپسې غوښتنو پر اساس د خلاصېدو تر څنګ رغول کېږي، چې په رغول کېدو سره به یې د ډنډ او پنجوایي ولسوالیو ترڅنګ د شپېرمې او ۱۵ ناحیې اوسېدونکي پر لنډه لار ښار ته داخلیږي.

وصال همدارنګه زیاته کړه چې دغه سړک ۱۳۰ متره اوږدوالي او ۲۵ متره سور لري چې د استملاک سره پرې ۲۰ میلیونه افغانۍ لګښت راځي او چارې به یې په دریو میاشتو کې بشپړې شي.



د یادونې وړ ده، چې یاد سړک د رغولو کار په جریان کې به ۵۵۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

# د سیمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت اړیکو رغول!

**لیکنه: م حمادشیرزاد**

له کومې ورځې چې په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم شوی، له هماغې ورځې تر ننه ورته بېلابېلې ننګونې، چیلنجونه او ستونزې تر مخه دي، حو پر وړاندې یې کلک ولاړ او د یادو ننګونو د له منځه وړلو لپاره مبارزه کوي، خو د سیمې له هېوادونو سره وخت ناوخته ځینې ستونزې راولاړېږي چې اسلامي امارت تل د خبرو او تفاهم له لارې حل کړې ترڅو ګاونډي هېوادونو سره راشه درشه، سیاسي او تجارتي اړیکې په غوره توګه وپالل شي او همدا د افغانستان د اوسني دولت روښانه پالیسي هم ده.

افغانستان د نړۍ یو له لرغونو هېوادونو دی، چې موقعیت یې هم ستراتیژیک او د اتصال له پلوه هم د سیمې هېوادونو لپاره ډېر اړین دی، چې وخت ناوخت د نړۍ زبر ځواکونو د خپلو ګټو او دغه سیمه د خپلې ولکې لاندې د راوستلو لپاره یرغلونه کړي، خو تل ناکامه او نامراده شوي، خو د افغانستان وګړو، آبادۍ، پرمختګ، سیاسي او تجارتي اړیکو او نورو هیلو ته یې تل زیان رسولی او زیاتره یې له بدبینیو، جګړو، سمتي، قومي او مذهبي تعصباتو سره مخ کړي او تر ډېره حده یې دا هېواد په بې وزلۍ کې د شته کانونو، نفتو، ګازو او نورو زخېزیو سربېره یوازې پرېښی او تر فشارونو لاندې وي؛ خو بیا هم نن دا دی د افغانانو همت، قربانۍ او عزم دا هېواد یوځل بیا په پښو راولاړ کړی، خو د لا پرمختګ لپاره یې لومړی د سیمې او ګاونډیو هېوادونو او بیا نورې نړۍ سره اړیکو رغولو ته اړتیا ده.

افغانستان تر بل هر وخت اوسنیو شرایطو کې یوې قوي دیپلوماسۍ ته اړتیا لري، داسې دیپلوماسي چې هم د اسلام له پلوه هېواد ته خیر ورسوي او هم د سیمې او نړۍ له ټولو هیوادونو سره د راکړې، ورکړې، تجارتي او سیاسي اړیکو لاره غوره کړي او د خپلې اوسنۍ بهرنۍ پالیسۍ په قدم لاړ او هیواد له دغه ستونزمن حالت راوباسي.

د سیمې هیوادونو په دغه تېرو ۲۰ او ۲۳ کلونو کې د افغانستان د تخریب، تسخیر او د خپلو ګټو لپاره په کې د بدبینۍ کوښښونه کړي، له امریکا او نورو هغه قدرتونو سره یې د افغانستان په ځپلو او ورانولو کې پوره ونډه اخیستې او لا هم د سیمې ځینې هېوادونو له تیرو ترخو تجربو زده کړه نه کوي او پر خپل دغه پخواني فکر روان دي او ورځ تر بلې ستونزې او خنډونه جوړوي او د افغانانو د پرمختګ په مخ کې ستونزې ایجادوي او د هغه خلکو ملاتړ او غونډو ته هم اجازه ورکوي چې په افغانستان کې د یو مشروع نظام پر وړاندې یو ځای نیم کې درېږي او بغاوت ترسره کوي، چې داسې کړنې د دواړو اړخونو لپاره د لا ستونزو زیاتیدو سبب کېږي او ولسونو ته د زور جوړولو سربېره د سیمې اقتصاد او تجارت ته هم زیان رسوي. د سیمې په هېوادونو کې د افغانستان زیاته برخه د پاکستان او ایران سره ده، چې زیاتره ستونزې هم د دغې دوه هېوادونو سره راولاړېږي، کله د اوبو، کله د امنیت او کله د نورو ګټو لپاره یاد هېوادونه د اوسني دولت سره اړیکې ترینګلې کوي او یو لامل یې دا هم کېدای شي چې تر ۸ میلیونه افغانان په دغه دوو هېوادونو کې مهاجر او د کډوالۍ ورځې شپې سبا کوي او دا د اوسني دولت د ځورولو لپاره له دوی سره یو ښه افشن هم دی، چې دغه دوه هیوادونه یې تل کاروي، چې له امله یې اړیکې ترینګلې او دواړه اړخونو ته زیات زیانونه واوړي.

اسلامي امارت وخت ناوخته د خپلو پیغامونو له لارې دا جوته کړې، چې دوی له ټولو هېوادونو په ځانګړې ډول له ګاونډیو هېوادونو سره غوره اړیکې غواړي او دا یې څو ځله په عمل هم ثابته کړې او دغه د اړیکو رغول د افغانستان لپاره هم او د یادو هېوادونو لپاره یوه ښه او کامیابه کړنه ثابتیدلای شي، د افغانستان سربېره د یادو هېوادونو تجارت، اقتصاد او راکړه ورکړه د نورې نړۍ او خپلو کې وده کولای او دلته یو اروپا په څېر یو ښه پلیټ فارم د افغانستان په شمول رامنځته کېدلای شي.

پاکستان د افغانستان یو له مهمو ګاونډیو هېوادونو دی، چې له کلتوري، فکري او اسلامي اړخه هم د دواړو هېوادونو د وګړو تر منځ ډېر زیات مشترکات شتون لري، د دې دواړو هېوادونو اړیکو په ښه شکل سره رغیدنه تر هر څه مهمه ده، هغه که په سیاسي لحاظ وي، که په تجارتي او که په ولسي لحاظ وي، ولې؛ چې د افغانستان جوړېدل د پاکستان او د پاکستان لا جوړېدل د افغانستان په خیر او ګټه دي، د اړیکو ترینګلتیا نه یوازې دا چې اقتصاد، تجارت او د دولت پرمختګ ته تاوان رسوي، بلکې په روانې شکل دلته د دې قومونو او ولسونو تر منځ د بدبینۍ تخم او زهر لا شیندل کېږي او د دغه سیمې زور لا پسې اوبه کېږي، ځکه د انګرېز، هند او نورو کفارو یوه دسیسه دا هم ده چې په دغو دوو هېوادونو کې پراته قومونه څنګه له یو بل سره متنفره او کرکجن کړي او څنګه یې تر منځ بدبینۍ پراخې او زیاتې کړي.

پاکستان که پر خپله پخوانۍ نظریه او فکر ولاړ وي، نو اړیکې هېڅکله نه شي ښې کیدلای او نه پرمختګ کېدلای شي، ځکه د میم زر ما ټوله زما او یا هم د دې ورته سیاستونه د کامیابۍ پر لور نه شي تللی؛ بلکې لا له ستونزو سره مخ کېږي او د پرتو قومونو لپاره د نفرت یو سبب هم ګرځي، پاکستان لپاره یو زرین فرصت دی، چې اړیکې د افغانانو د زړونو په ګټلو ورغوي او یوازې د خپلو ګټو په لټه کې نشي، بلکې د راکړې/ ورکړې او راشې درشې سیاست په صدق او اخلاص سره غوره کړي، تر څو دواړو طرفونو ته پراته قومونه هم په سوکالۍ او خوشحالۍ ژوند وکړي او هم یې د پردیو پر وړاندې زور قوي او یو موټی پاتې شي.

# آیا د رسمیت پېژندنې تر وخته کرار کېنو؟!

**سعید غلجی**

که د نړیوالو درواغجنو تبلیغاتو، چلونو، مکرونو، تصوراتو او خیالي رنګینیو ته د غوږ نیولو پر ځای، موجوده حقیقت او واقعیت وڅېړو، نو د لمر په شان روښانه معلومېږي چې نه په نړۍ کې بشري حقوق شته، نه همدردي، نه ملګري ملتونه او نه کوم بل هیڅ قانون!!

ټوله خبره فقط د زور ده، دا ټولې اداري هسې تش په نوم دي، ظاهري حضور او تشکیلات لري، خو په عمل کې یې هیڅ څرک نشته. قانون بیخي د غښې جال حیثیت لري، چې کمزوري په کې نښلي او قوي ترې تېرېږي، بلکې جال هم له ځانه سره شلوي!

د پورته خبرو د ثبوت لپاره په سلګونو دلایل موجود دي او ښایي هر عاقل انسان به د دوی دروغ، مکر او فریب ډېر ښه درک کولای شي. هغه خلک به ډېر زیات ساده وي؛ چې اوس هم د دوی په قوانینو، ټولنو او تشکیلاتو دوکه شي، ځکه د دوی ادعاوې او اعمال بیخي سره په ټکر کې دي او هر څوک یې په خپلو سترګو ویني.

په هر صورت؛ اوس دا دی موږ وینو چې دغه مکرجنه نړۍ د مصر کودتاچي حکومت په رسمیت پېژني، د برما کودتا چې حکومت په رسمیت پېژني، د شمالي کوریا مستبد نظام په رسمیت پېژني، هر ډول فاسد، ظالم، مستبد، بې واکه او نا قانونه رژیمونه په رسمیت پېژني ، په هر نوم او هر ډول باطلې نظریې مني، خو اسلام په هېڅ صورت نه شي زغملی!

دا دی د افغانستان اسلامي امارت باندې یې بندیزونه لګولي، په رسمیت یې نه پېژني او د افغانانو مالي پانګه یې کنګل کړې ده، بس هسې ډول ډول پلمې او بهانې کوي، په یو او بل نوم بې ځایه نیوکې کوي، بېلا بېل شرایط وړاندې کوي او په دې توګه همداسې د بندیزونو او په رسمیت نه پېژندنې ستونزو ته ادامه ورکوي.

د افغانستان اسلامي امارت به د یو نظام په حیث هڅه کوي، چې زموږ مالي پانګه هم ازاده کړي، بندیزونه هم ختم کړي او د رسمیت پېژندې لپاره هم سیمه ییزه او نړیواله اجماع برابره کړي، مګر تر هغه وخته موږ څه وکړو؟!

ایا کرار همداسې د بندیزونو ختمېدلو او د رسمیت پېژندلو تر وخته؛ لاس تر زنې کېنو؟!

تر څو به موږ دغې زورورۍ او ظالمې نړۍ ته؛ د عدالت په تمه ناست یو؟!

نو حقیقت دا دی چې دوی به هېڅکله زموږ خلاف له بندیزونو، سازشونو، دسیسو او پلانونو څخه لاس وانه خلي، دا حقیقت الله تعالی په قرآن مجید کې ډېر په صراحت سره بیان کړی، تر څو چې موږ د اسلام دعوه کوو، دوی له موږ څخه نه شي راضي کېدلی!

نو باید چې دوی ته د بې ځایه انتظار پر ځای، خپله لاس په کار شو، هېواد اباد کړو، اقتصاد پیاوړی کړو، پوځ منسجم کړو، د زده کړو بهیر پراخ کړو او په مجموع کې د پرمختګ په لور هر اړخیز ګامونه واخلو.

کله چې موږ پرمختګ پیل کړ، اقتصاد مو پیاوړی شو او زور مو وموند، خپله به مو همدغه اوسني ظالمان؛ له قید او شرط پرته په رسمیت وپېژني، بیا به هېڅوک پر موږ بندیزونه نه شي لګولی!

نو هر څه باید د رسمیت پېژندنې تر وخته معطل نه کړو، اوس چې له جګړو خلاص او الحمدلله د نړۍ په سطحه له قوي او مثالي امنیت څخه برخمن یو، همدا زموږ د کار وخت دی! باید چې د پرمختګ په لور ګامونه واخلو، ځان ورسوو او وخت غنیمت وګڼو. اوس باید په لرې لرې اطرافي سیمو کې هم ډېر ژر د زدو کړو زمینه برابره کړو، تعلیم عام کړو، ځکه چې همدا تعلیم د پرمختګ لومړی شرط دی. همداراز د اقتصاد په ډګر کې باید یوه شیبه غفلت ونه کړو، پردیو مرستو ته د تمې پر ځای، باید خپله لاس په کار شو. ټول پانګوال او شتمن افغانان باید په اخلاص، زړورتیا او الهي توکل سره په خپل هېواد کې په مختلفو برخو کې د کار، صنعت او تجارت فرصتونه برابر کړي، حکومت هم باید دې برخې ته جدي پاملرنه وکړي، کورنیو او بهرنیو پانګوالو او سوداګرو ته په هره برخه کې کافي اسانتیاوې برابرې کړي او پانګونې ته یې وهڅوي.

ملت باید کار وکړي، داسې نه، چې یو دهقان هم خپل پټی نه کري او رسمیت پېژندنې ته منتظر وي، بلکې ملت او حکومت باید په ګډه ټولو هغو هڅو ته دوام ورکړي چې د هېواد د پرمختګ لامل ګرځي. موږ به هغه وخت کامیاب یو، چې له موجوده بحران، بندیزونو او ستونزو څخه د فرصت په توګه ګټه واخلو، په ملت کې د خودکفایي فکر پیدا کړو، خپل خواړه له خپلې خاورې لاس ته راوړو، صنعت او تجارت ته وده ورکړو او د وارداتو په پرتله صادرات زیات کړو.

د ایران انقلاب پنځه څلوېښت کاله وشول، خو تر اوسه لا له بندیزونو نه دي خلاص، په یوه او بله پلمه بندیزونه او ستونزې ورته جوړوي، خو هغوی لګیا دي، کار کوي او د پرمختګ په لور ګامونه اخلي، دا دی نن په سیمه کې یو له قوي نظامونو ګڼل کېږي. همدغه شان جاپان، ویتنام، مالیزیا او نورو ټولو پرمختللیو هېوادونو اول همدغه شان ستونزې تېرې کړې او زغملې دي، خو د مایوسۍ او بې ځایه تمو پر ځای یې، کار کړی او ځان یې رسولی.

نو خلاصه دا چې موږ باید له خپلو دښمنانو څخه د رحم هیله ونه کړو، خپله باید لاس په کار شو، ځان ورسوو او هرې موقع څخه د فرصت په توګه ګټه واخلو!

له تنګلاسۍ وروسته اساني راتلونکې ده او بې له زحمته راحت نشته!

# افغانستان به ډېر ژر ځان بسیاینې ته ورسېږي

**راشد آرین**

پای ته رسېدونکی ۲۰۲۳ زېږدیز کال د افغان ولس او حکومت لپاره له لاسته راوړنو ډک و، ځکه اسلامي امارت پر ټول افغانستان د حاکمیت سربېره ډېرې لاسته راوړنې درلودې، که څه هم نړیوالې ټولنې د لوېدیځ او په ځانګړې توګه د امریکا د فشار له امله د افغانستان نوی اسلامي نظام په رسمیت نه دی پېژندلی؛ خو له هر ډول سیاسي فشارونو ترڅنګ همدغه نظام خورا ډېرې بریاوې ترلاسه کړي او په دې وروستیو کې د نړۍ له شپږتو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې ټینګې شوې او امید لرو، چې نور به افغانان پر بشري مرستو تکیه نه وي او افغانستان به خپله تر راتلونکو درېیو کلونو پر ځان بسیا شي.

بې له شکه چې سږ کال حکومت د نړیوالو له لوري پر اقتصادي محدودیتونو سربېره د هېواد په کچه د ځینو سترو زېربنایي پروژو کارونه له ملي بودجې پیل او پای ته ورسول، د بېلګې په توګه د سالنګونو او کابل ـ کندهار لویو لارو جوړول ، د قوشتېپې ستر کانال، د قشقري نفتو د استخراج چارې، د اوبو مدیریت، روغتیا او کرنې په برخو کې د لویو پروژو پلي کول هغه څه دي، چې مسئول چارواکي یې جوړولو او رغولو ته پوره ژمن وو، چې دغه بنسټیز پلانونه او کارونه خامخا هېواد ځان بسیاینې ته رسوي.

د دې په څنګ کې ډېر کورني او بهرني شرکتونه، چې د سیمې او نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې د پانګونې تاریخ لري، غواړي د کانونو، کرنې، برېښنا، روغتیا، زېربناوو، ترانسپورت او ورو او منځنیو تشبثاتو په برخو کې پانګونه وکړي، چې په دې برخه کې تر اوسه پورې له بېلابېلو کمپنیو سره د کانونو او پروسس، د برېښنا د لېږد او بنسټیزو تاسیساتو په برخو کې د شپږ میلیارده او ۶۸۲ میلیونه ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیك شوي، یاد شرکتونه په داسې حال کې پانګونې ته لېوالتیا ښیي، چې اسلامي امارت تل په کور د ننه پر پانګونې ټینګار کړی او په دې برخه کې یې د بېلابېلو اسانتیاوو په رامنځته کولو ژمنې هم کړې دي.

په هر حال افغانستان په داسې حال کې د اقتصادي بسیاینې په لور خوځېږي، چې له یوې خوا بهرني اشغالګر له افغانستانه ووتل، د ۲۰۲۱ م کال د اګست میاشتې په نیمایي کې د اسلامي امارت په مشرۍ د افغان ملت شل کلنې اوږدې او سختې مبارزې رنګ راوړ، اشغالګرو ماتې وخوړه، له بل لوري هېواد کې د څه ناڅه څلوېښت کلنې تپل شوې جګړې کرغېړن ټغر ټول شو، بل دا چې داسې واحد مرکزي حکومت منځ ته راغی، چې د ډېرو فتنو مخه په کې ونیول شوه او پر ځای یې خپلواک او ځواکمن مرکزي اسلامي نظام حاکم شو.

هماغه وو، چې د هیواد اقتصادي حالت له پخوا ښه شو، په کلني ډول د صادراتو کچه له اووه سوه میلیونو ډالرو څخه شاوخوا دوه میلیاردو ډالرو ته لوړه شوه، د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت په ډېر ښه ډول ساتل شوی، په بازارونو کې انفلاسیون له ټولو ټیټې کچې ته راښکته شوی او د خوراکي توکو او د اړتیا وړ نورو توکو بیې د پخوا په پرتله ډېرې راټیټې شوي دي.

د اسلامي امارت مسئولو چارواکو په وروستي یو کال کې په ټول توان هڅه کړې؛ چې اقتصادي او سوداګریز وضعیت ښه کړي او د بسیاینې په لور ګړندي ګامونه واخلي، څو خپله ټوله بودجه له کورنیو عوایدو برابره کړي، نه له بهرنیو مرستو څخه، ترڅو افغانان باید بهرنیو مرستو ته اړتیا پیدا نه کړي، دغه راز د کرنې، صنعت او کانونو د ودې لپاره هم محتاطانه ګامونه اخیستل شوي او د هېواد کانونه د افغانستان شرایطو ته په کتو په قرارداد ورکول کېږي.

دمګړۍ موږ وینو، چې افغانستان له ۶۰ هېوادونو سره سوداګریزه راکړه ورکړه لري او دغه سوداګري تر ډېره له هند، چین او پاکستان سره ده او له منځنۍ آسیا او همداراز روسیې سره د سوداګرۍ د کچې د لوړېدو لپاره هم هڅې روانې دي،له همدې له امله رسمي شمېرې ښیي، چې د طبیعي برخې او د افغانستان دودیزو صادراتو کچه د تېر په پرتله دونیم برابره زیاته شوې، یانې مخکې د صادراتو له ټولو لوړه کچه ۸۰۰ میلیونه ډالره وه. له افغانستانه د بهرنیو اشغالګرو له وتلو وروسته د هېواد کابو ټولې زېربناوې ویجاړې او همدا راز د افغانستان بانک ټوله شتمني کنګل شوه؛ خو له دې سره سره د هېواد اقتصادي ستونزو ته په ښه توګه رسېدنه شوې ده.



تاریخ ثابتوي، د کوم هېواد په چارو کې چې لاسوهنه شوې، په اقتصادي ډګر کې بسیاینې ته نه دي رسېدلي، ځکه د نړۍ زبرځواکونو تل ناامنیو ته لمن وهي او ورځ تر بلې د بې ثباتۍ فضا رامنځ ته کوي، باثباته نظامونه ړنګوي او پر ځای یې جنجالي دولتونه رامنځ ته کوي، دغه راز کورنیو جنګونو، ژبنیو او سیمه ئیزو تعصبونو ته لمن وهي، چې ښه او ژوندۍ بېلګه یې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د نړیوال ائتلاف اشغال و!

نړۍ چې د افغانستان په څېر ښکلې هوا، اوبه، تازه او وچې مېوې، معدن او کانونه، د تېلو زېرمې، روان او مست سیندونه، ځنګلونه، بشري ځواک (ځوانان)، پراخه دښتې او زړه راښکونکي طبیعي منظرې نه لري؛ خو له بده مرغه د تېر څه د پاسه څلوېښتو کلونو جګړو او سیاسي لاسوهنو له امه د هېواد اقتصادي زېرمې ویجاړې او مالي سکتور ته درانده زیانونه واوښتل، نو د همدې لوړ او سپېڅلي هدف د ترلاسه کولو لپاره لازمه او جدي اړتیا ده، چې افغانستان کې د ګاونډ، سیمې او نړۍ د هېوادونو لاسوهنې ختمې شي، ځکه افغانستان د هېڅ هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او افغانان د یو مسلمان ملت په توګه د ګاونډ، سیمې او نړۍ سره د اسلامي اصولو په چوکاټ کې ښې اړیکې غواړي،چې په دې کې هېڅا ته د زیان رسولو امکان نشته. نو په کار ده،چې د نړۍ هېوادونه له اسلامي اصولو سره سم د ښو او پیاوړو اړیکو د ټینګښت لپاره خپل مسئولیتونه ادا کړي، څو د سیمې د امنیت او سوکالۍ لپاره ستر ګامونه پورته شي.

## جهادي خاطرې

# په تېښته بریالي شوو!

**مولوی حیات الله مهاجر فراهی**

۱۳۸۴ لمریز کال و د فراه مرکز اړوند د دیگفروش په نوم یو کلی دی، ژړی مازدیگر ورغلم د کلي ملا امام یو سپین ږیری امام (مولوی عبدالهادي صاحب) دی چې له ډېره وخته سره شناخته یو.

مولوي صاحب ته مې وویل: اجازه شته چې د لمانځه وروسته ستاسې مقتدیانو ته څه بیان وکړم. مولوي صاحب هم اجازه راکړه. د ماښام د لمانځه اداء کولو وروسته ولاړ شوم بیان مې شروع کړ. زما سره یو بل طالب و (ملا فتح خان) د ارزګان ولایت استوګن و (که شهید وي الله دې شهادت قبول کړي او که ژوندی وي الله دې وساتي) هغه د مسجد دروازه بنده کړه چې څوک د باندې ونه وځي او خدای مه کړه چاړواکو ته راپور ورنه کړي. کله چې ما بیان شروع کړ د روان جهاد او اشغال په خلاف مې خبرې پیل کړ. نو خلکو سره پوسپوسکي شروع کړې.

څو ورځې مخکې دلته چاپه راغلې وه او د دې حجرې یو طالب العلم بې تنګ کړی و. ما په دې تقریر کې دا پښنه وغندل او خلکوته مې د دې موضوع په هکله وویل چې تاسو باید د خپلو طالبانو ساتنه وکړئ، دښمن ته یې په لاس ورنه کړئ!

کله مې چې بیان پای ته ورساوه او د مسجد تر دروازې راووتلم نو خلک راباندې چاپېر شول، یوه ترګریوان راونیولم او نورو موبایلونه را واخېستل پر غوږ یې کړه چې د امنیت (خاد) کارمندان راغواړي. دلته د خلکو شور او غوغا جوړه شوه، چا ویل راتینګ یې کړئ د چارواکو په لاس یې ورکړئ، چاویل خوشي یې کړئ. په دې کې یو سپین ږیری ملنګ شکله را ورانږدې شو او خلک یې تېل وهل، ما ددې حالت په لیدلو یوازې دومره وویل: وه خلکو! کېدای شي ماته تکلیف راکول ستاسو په زیان تمام شي.

زما ملګري ملا فتح خان خپل پاج لنګوټه پر ملا باندې تاو راتاو کړې وه، چې خلکو ته دا په ذهن کې ورکړي چې ګویا استشهادي مجاهد دی، د ده عمل هم ډېره ګټه ورسول د تکبیر ږغ یې وکړ خلک سره شاته شوه... او هغه ملنګ شکله کاکا هم کوښښ وکړ، ما او ملا فتح محمد اخند هم په بېړه خپل موټر سایکل ته وختلو او په دومره سرعت مو روان کړ چې خولی مې هم له سره ولوېدله او د بېرته را اخیستلو مجال مو پیدا نه کړ... په دې توګه له سیمې نه په تېښته بریالي شو.

په لاره چې موټر سایکل کې څومره توان و، ګاز مې ورکاوه خو بیا مې هم فکر کاوه چې ولې نه ځغلي. بالاخره مرکز اړوند د شمالګاه کلي ته په خیر او خیریت را ورسېدو...

***

**د لړم نه مې زده کړل**

فراه رود تودنک ۶-۴-۱۳۹۹ هـ ل

بېګا شپه ۱۱ بجې په کوڅه روان وم د موبایل برق مې روښانه کړی و، سترګې مې په یوه لړم ولګېدې چې نسبتاً غټ و، بندونه یې ډېر او ډېره برخه یې توربخونه وه. شاوخوا مې وکتل کومه غټه ډبره مې په سترګو نه شوه د پښې نه مې بوټ را وایستی او پر لړم مې ګوزار وکړ پر ځمکه مې د لړم څه پاتې شوني ولیدل او په نوره برخه پسې مې څو ځلې برق اخوا دېخوا کړ خو به نظر رانغلی. فکر مې وکړ چې ګوازار دې ډېر قوي پرې وکړ، کېدای شي ورې ټوټې شوی وي، پښه مې بوټ ته د ننه کړه، لړم راباندې ګوزار وکړ او پر ځچنه ګوته یې وچېچلم. ژر مې پښه له بوټه بهر کړه، بوټ مې وڅانډه لړم ترې ولوېد.

د دې پېښې نه مې عملاً دا زده کړل (۱) چې کوم څه درته لیکل شوي وي همغه به خامخا درته رسیږي (۲) غلیم چې څومره کمزوری ګڼې بیا هم خپله پوره امادګي ورته ونیسه (۳) د دښمن چې په هر حالت کې لاس برشي خپل غچ نه درته پرېږدي.

# د ډیورنډ کرښې په اړه څو ټکي چې پوهېدل پرې په کار دي

**بهرام خیل پاځون**

۱ ـ د ډیورنډ کرښې په نوم له پاکستان سره د افغانستان کوم تړون نه شته

د ډیورنډ کرښې په نوم تړون نږدې ۱۲۴ کال مخکې امیر عبدالرحمن خان د برېتانیا تر سخت فشار لاندې له برېتانوي هند سره لاسلیک کړی.کله چې برېتانیا له هنده ووتله او هند وویشل شو، د انګرېزانو له خوا له جوړ شوي پاکستان سره افغانستان د پولې یا سرحد په اړه هېڅ ډول تړون، توافق او معاهده نه لري.

۲ – د ډیورنډ کرښې تړون کې دا کرښه نړیوال سرحد نه دی ګڼل شوی: د ډیورنډ کرښې په نوم د امیر عبدالرحمن خان او د برېتانوي هند د بهرنیو چارو د وزیر هنري مورټمر ډیورنډ تړون اووه مادې لري. په تړون کې هېڅ ځای ډیورنډ لاین د یو دایمي سرحد په توګه نه دی یاد شوی، بلکې ټولې مادې یې د هغه وخت د برېتانوي هند او امیر عبدالرحمن خان ترمنځ پر دې کرښه د پرتو سیمو په تنظیم او وېش راڅرخي. په دې اووه ماده ییز تړون کې، یوځل د«فرنټیر لاین» یوځل د «باونډري» پنځه ځله د«فرنټیر» یوځل د«باونډري لاین» او یو ځل د«باردر» ټکي خوندي شوي،چې دا ټول تناقض او ابهام د دغه تړون په موقتوالي دلالت کوي.

برېتانوي څېړونکي هیریس په لندن کې د خپلې ډاکټرۍ په تیزیس کې لیکي: «په واقعیت کې د یو قوم د وېشلو په هکله د [ډیورنډ] د تړون یوازینی ثبوت هغه لیکه ده چې د تړون په نقشه ویستل شوې ده، او امیر[عبد الرحمن] دغه نقشه نه ده لاسلیک کړې.))

ګڼ برېتانوي او افغان تاریخ پوهان داسې اسناد او شواهد لري چې برېتانویانو د پاکستان له جوړولو پورې د ډیورنډ لیکې ته د بین المللي لیکې په سترګه نه ووکتلې.

۳- افغان چارواکو له هماغه پیل راهیسې هېڅ کله دا کرښه د سرحد په توګه نه ده منلې،امیر عبدالرحمن خان په خپلو یادښتونو کې دا یوه موقته او پر زور تپل شوې کرښه بللې او هیله یې څرګنده کړې چې یو وخت به برېتانویان له هند ووځي او افغانان به خپله نیول شوې خاوره بېرته تر لاسه کړي.

په امیر عبدالرحمن خان پسې، امیر حبیب الله خان، امیر امان الله خان او نادرخان راغلل چې هر ځل برېتانوي هند اړ کړي چې د دغه تړون دوام تائید کړي، دا کار خپله د دغه تړون پر موقتوالي دلالت کوي. دغو درېیو واکمنو هم له عبدالرحمن را وروسته له برېتانوي هند سره د ډیورنډ د کرښې د تړون موقت دوام یو ډول تائید کړی خو هېڅ داسې سند نه شته چې دوی دې دا کرښه د رسمي یا دایمي سرحد په توګه منلې وي.بلکې د هماغه عبدالرحمن خان له خوا د شوي تړون دوام ته یې غاړه اېښې.

خو د پاکستان پر جوړېدو هېڅ افغان چارواکي له پاکستان سره دا کرښه د سرحد په توګه په رسمیت نه ده پېژندلې. ان د رباني ـ مسعود او دغه راز را وروسته تر ننه پورې نور حکومتونه هم دې ته چمتو نه شول،چې له پاکستان سره د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحد په توګه تائید کړي.

۴ – پاکستان د برېتانوي هند حقوقي ځای ناستی نه دی،برېتانوي هند درنجیت سینګهه، شاه شجاع، امیر دوست محمد خان، امیر محمد یعقوب خان، امیرعبدالرحمان خان، امیرحبیب الله خان، امان الله خان او د محمدنادرشاه سره حقوقي اوسیاسي راشه درشه ساتلې وه، نه له پاکستان سره. ځکه هغه مهال پاکستان هېڅ(حقوقي، سیاسي،تاریخي، کلتوري) وجود نه درلود. پاکستان چې هېڅ موجودنه و، څنګه به ورنه دښکېلاک ګري برېتانیې وارث جوړ شي؟

کله چې په ۱۹۴۷ م اګېست کې برېتانوي هند ووېشل شو او پاکستان رامنځ ته شو، افغانستان لومړنی او یوازینی هېواد و چې په ملګرو ملتونو کې یې د پاکستان د غړیتوب مخالفت وکړ او د لومړي ځل لپاره د ډیورنډ کرښې اخوا د پښتنو او بلوڅو د حقونو ناره او خپله ادعا په نړیوال ستېج راپورته کړه.

۵ – له ډیورنډ کرښې پورې غاړه پښتنو د پاکستان جوړېدل او دا کرښه نه ده منلې،د ډیورنډ د ۲۴۳۰ کیلو متره اوږدې کرښې پورې غاړه پښتنو د ډیورنډ د کرښې په خلاف د هماغه پیل راهیسې وسلوال پاځونونه پیل کړي وو، د انګرېزانو چاونۍ یې وسوزولې او کله چې پاکستان جوړ شو د پاچاخان په مشرۍ د کوزو پښتنو په میلیونونو کسانو مظاهرې او اعتراضونه وکړل او د ډیورنډ کرښې د له منځه ورو نارې یې پورته کړې، چې د پاکستان د ځپوونکو اقداماتو او د افغانستان د ورانوونکې جګړې سربېره تر ننه هم په کوزه پښتونخوا کې د دې کرښې خلاف احساسات پر ځای پاتې دي.

۶- ظاهرشاه د ډیورنډ کرښې د له منځه وړلو درې مهم فرصتونه ضایع کړل،په ۱۹۴۷ م کې چې د پاکستان په نوم یو نوی مملکت جوړ شو نو له قبایلي سیمو انګرېزان ووتل. د برېتانیا هند ټولې چاونۍ، ودانۍ پاکستان ته پاتې شوې او په دې توګه پاکستان ځان د بریتانیا او افغانستان ترمنځ د حقوقي تړونونو میراث خور هم وباله. په کابل کې د برېتانیا د سفارت ودانۍ هماغه وخت د پاکستان لاس ته ورغله.

تاریخ پوهان په دې باور دي چې هغه وخت د افغانستان د پاچا محمد ظاهر شاه لپاره یوه ښه موقع وه چې پرخپلې سیمې یې دعوه کړې وای،خو د ظاهرشاه حکومت د ناڅرګندو دلایلو له امله یوازې په بیانونو کې دا دعوه توده وساتله او د خپلې خاورې د نیولو لپاره د پیاورې پوځ په لرلو سربېره هم عملي اقدام ونه کړ. د هغه وخت د حکومت چارواکي د دې فرصت بایللو په اړه بېلابېل دلایل بیانوي خو یو هم په سمه توګه نه شي توجیه کېدای.

دوهم غوره فرصت چې په کې افغانستان پر خپلې خاورې دعوه کولی شوای په ۱۹۶۵ م کال کې هغه مهال چې پاکستان په خپل ټول پوځي توان هند سره په جنګ اخته و، افغانستان په یو پراخ پوځي برید کې دا سیمې نیولې شوای،خو افغان حکومت نه یوازې د خپلې پلرنۍ خاورې د بېرته تر لاسه کولو لپاره پوځي اقدام ونه کړ،بلکې د هندوستان پر ځینو بمباریو یې چې د پېښور پر هوایي ډګر شوې وې د افغانستان له خوا اعتراض هم وشو.

د افغانستان لپاره د ډیورنډ لاین د له منځه وړلو لپاره دریېم ښه فرصت په ۱۹۷۱ م کې هغه مهال و چې د پاکستان زیات پوځ په بنګال او وروستو هند کې بند شو، بنګله دېش ازادي واخیسته، خو افغانستان د محکومو پښتو د ازادۍ لپاره په دې مناسب وخت کې غوښ اقدام ونه کړ.

۷ – پاکستان له هر افغان حکومت څخه د ډیورنډ د کرښې د منلو غوښتنه کړې، پاکستان له رامنځ ته کېدو راوروسته پر لپسې له بېلابېلو لارو د وخت پر افغان حکومتونو فشار راوړی،چې د ډیورنډ کرښه دې د افغانستان او پاکستان تر منځ د رسمي سرحد په توګه تایید کړي. دوی د ظاهر شاه او داود خان د واکمنیو پر ضد د احزابو د هغه وخت غړي د کمونیستانو تر کودتا مخکې بریدونو او وسلوال مخالفت ته هڅول او دوی ته یې وسلې ورکولې. دې ډلو لا هماغه مهال په افغانستان کې د ښوونځیو سوځول او د پلونو نړول پیل کړي و.

کله چې کمونیستانو کودتا وکړه پاکستان ته لا ښه پلمه په لاس ورغله او د مجاهدینو تر شا د همدې لپاره ودرېد،چې د افغانستان مرکزي حکومتونه کمزوري کړي او دا کرښه پرې ومني.

اسناد ښيي چې پاکستان په تېرو درېیو لسیزو کې د رباني، طالبانو او حامد کرزي له حکومتونو وخت پر وخت د رسمي سرحد په توګه د دې کرښې د منلو غوښتنه کړې، خو دغو نظامونو که غوښتل یا نا غوښتل د دې کرښې د تایید توان یې نه درلود.

پخواني ولسمشر حامد کرزي وخت په وخت دا خبره په ډاګه کړې چې پاکستان ورڅخه په رسمي غونډو کې د ده د حکومت د ملاتړ په بدل کې په څرګنده د ډیورنډ کرښې د منلو او له هندوستان سره د اړیکو د پرې کولو غوښتنه کړې چې نوموړي وایي نه یې ده منلې. د اشرف غني په مشرۍ حکومت هم په دې اړه له د پاکستان له جدي غوښتنې سره مخ و.

۸ – د امریکا او برېتانیا په شمول یو شمېر هېوادونه ډیورنډ لانجمن وضیعت هېڅ هېواد نه ردوي. له همدې امله خو د ملګرو ملتونو په شمول نړیواله ټولنه تل د دواړو لورو ترمنځ په دې اړه یوې وروستۍ پرېکړې ته د رسېدو لپاره د خبرو او جوړجاړي غوښتنه کوي.

همدارنګه د هندوستان په څېر هېوادونه داسې هم دي چې ډیورنډ لاین ته لکه د افغانانو په څېر د یوې تپل شوې کرښې په سترګه ګوري او ګرد سره یې د افغانستان او پاکستان تر منځ د پولې په توګه نه مني.

۹ – حکومتونه په یوازې سره د ډیورنډ کرښې په اړه پرېکړه نه شي کولی، د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان د حکومتونو څخه ډېره د پښتنو د ستر ولس مسئله ده چې د دې کرښې په اوږدو تر شپېتو میلیونو څخه په زیات شمېر کې پراته دي او دې کرښې په دوو برخو داسې وېشلي چې د یوې کورنۍ غړي یې سره بیل کړي.

د دې کرښې د منلو او یا نه منلو په اړه هره پرېکړه هم په همدې پراخو پرګنو یا د دوی په منتخبو استازو پورې تړلې ده. شمالي ټلواله، افغان حکومت، پاکستاني پوځ او نور لوري د دې پولې د منلو یا تائید واک نه لري.

د نړیوالو حقونو له مخې په سیمه کې یوه پراخه، بې پرې او عادلانه ټولپوښتنه د دې کرښې برخلیک ټاکلی شي، د کومې ټولپوښتنې لپاره چې اوس شرایط نه دي برابر.

له دې پرته که ولسونه په دې اړه پرېکړو کې شامل نه وي د حکومتونو ترمنځ هر ډول پرېکړې به بیا هم لکه عبدالرحمن خان او بریتانوي هند ترمنځ تړونونو ته ورته وي چې کاغذ کې به وي خو هغه ولسونه به یې هېڅکله هم ونه مني چې پر خېټه یې دا کرښه ښکل شوې ده.

همدارنګه د افغانستان د نورو ورونو قومونو اخلاقي مسوولیت دادی ،چې د دې کرښې پر ضد د پښتنو د داعیې ملاتړ وکړي، تر دې پرته د دوی له خوا د دې کرښې منل یا نه منل د ستونزې هواري سره کومه مرسته نه شي کولی او د دوی لپاره هم کومه ګټه نه لري.

۱۰ – ایا د ډیورنډ کرښې د معضلې حل نه شته؟

ولې نه. لکه مخکې مو چې وویل که په سیمه کې داسې شرایط رامنځ ته شي چې د کرښې دواړه غاړې مېشت پښتانه چې دې کرښې وېشلي په بې طرفه او ازاده توګه خپله اراده څرګنده کړای شي او د هغوی ارادې ته درنښت تضمین شي کولای شي د دې کرښې په اړه یوې دایمي پرېکړې ته لاره هواره کړي.

البته افغان حکومت د کوزو او برو پښتونو د یوې لویې جرګې په ترڅ کې د دې کرښې په اړه بحث او خبرې پیلولی شي چې ښایي اوږد وخت ونیسي ،چې پرېکړې ته ورسېږي.

همدارنګه د افغانستان او پاکستان حکومتونه کولی شي پر کرښې د کړکېچ راکمولو لپاره پر ځینو موقتو حل لارو غور وکړي،چې د معضلې یو دایمي حل ته لاره هواره شي.

دې کې هېڅ شک نه شته چې د دې کرښې پر سر راپورته شوی کړکېچ د کرښې دواړه غاړه پښتانه ناارامه کړي او دا سمه نه ده چې په اړه دې هېڅ ډول خبرې نه کېږي. خبرې کېدای شي ،خو دا خبرې باید د دواړو لورو د حکومتونو په صلاحیتونو پورې محدودې وي او د کرښې په اوږدو کې د پرتو ولسونو خوښه او خیر ښېګڼه باید په کې شامله وي.

# ماضي په حال کې:

# د سوبو دوره او اداري نظام

**لیکنه: خالدمشعل**

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خطاب زوی او له بنو عدي قبيلې دی، له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه ۱۳ کاله وروسته په مکه کې زېږېدلی. په سر کې پنځه کاله د اسلام ستر مخالف و، د بعثت په پنځم کال اسلام باندې مشرف شو، چې حضرت حمزه رضي الله له هغه مخکې ایمان راوړی و.

عمر فاروق رضي الله عنه چې په ایمان وځلېده نو بيت الله شريف ته له مسلمانانو سره لاړ او د کافرانو په وړاندې يې لمونځ اداء کړ. وروسته يې په ښکاره هجرت وکړ او په ټولو غزاګانو کې يې برخه واخيسته، چې ښه توره يې پکې وځلوله. کله يې هم د امارت او قيادت ارمان و نه کړ. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رحلت پر مهال يې نوم د اسامه بن زيد رضي الله عنه په لښکر کې ليکلی و، ابوبکر صديق رضي الله عنه چې هغه لښکر لېږه، نو دی هم پکې روان شو خو صديق اکبر ورته وويل: ته مه ځه! بيا پاتې شو او لاړ نه.

عمر فاروق رضي الله عنه د ابوبکر صديق رضي الله عنه مرستيال او په ټولو چارو کې ملګری و، ځکه خو د غوره خدمتونو په نتيجه کې ابوبکر صديق رضي الله عنه په داسې حال کې خپل ځايناستی وټاکه چې هېڅ قومي او نسبي اړيکه يې ورسره نه وه. تر لسو کالو پورې يې د مسلمانانو مشري او خلافت په غوره شان ترسره کړ او له هغه وروسته د ابو لؤلؤ مجوسي له خوا د سهار په لمانځه کې خنجر باندې ووهل شو او درې ورځې وروسته شهيد شو. له شهادت ته وړاندې يې شپږ کسيزه شورا جوړه او عشره مبشره يې د هغه اعضاء وټاکل. وروسته يې روح والوت او له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په روضه کې خاورو ته وسپارل شو. ـــ رضي الله عنه ـــ

د عمر فاروق رضي الله عنه دوره د سوبو او فتوحاتو دوره وه، چې پر مهال يې د روم امپراطورۍ لويې/ زياتې برخې له منځه لاړې. همدا شان د فارس ستر واکي هم داسې ولړزېده چې وروسته ړنګه شوه. نو د وخت ستر فاتح يوازې سيمې نه نيولې بلکې يو لوی خلافت او امارت يې هم د ځمکې په ډېره برخه قائم کړی و. خلافت ته يې په اسلامي اصولو داسې اداره جوړه کړې وه چې هغسې قانون او اداره د نړۍ پر مخ چا نه دي قائم کړي. نه فرانسې هغه حکومتي چوکاټ جوړ کړی، نه امريکا او نه کوم بل هېواد توانېدلی. بلکې هغوی او نورو ډېرو د خپلو قوانينو محتويات عمر فاروق رضي الله عنه له قوانينو غلا کړي دي.

عمر فاروق رضي الله عنه بيت المال (د ماليې وزارت) درلود، چې هر څه له اصولو سره په کې ورکول کېدل او اخيستل کېدل. له هيچا سره ظلم نه کېده، د بيت المال چارواکو هر څه تنظيمول. همدا شان د مسلمانانو د چارو د تنظيم لپاره يې شورا درلوده، چې هغه په درېيو برخو کې په درېيو ډولو خلکو وېشل شوې وه:

١ـــ مهاجر او انصار

٢ـــ يوازې مهاجر

٣ـــ عام مهاجر او انصار د مفتوحه ځمکو د وېش په هکله.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د هر ولايت لپاره واليان ټاکلي وو چې له هغه سره، پوځ او امير يې، قاضي، د خراج امير، محاسب (امربالمعروف...)، پوليس او نور په دندو ګمارلي وو. همدا شان د هغه مهال دوو سترو ستر واکيو (روم او فارس) زياتره خاورې يې تر ونيولې، د اسلام په رڼا يې منورې کړې او د وګړيو ژوند يې ښه کړ. مسلمانان يې په شل رکعته تراويحو سره راجمع کړل، کالهنداره (تقويم/ جنتري) يې جوړه کړه. لوی پوځ يې درلود چې ۱۰ زريز امير به يې اميرالجيش باله، د زرو کسانو مشر يې کردوس او د سلو امير ته يې (قائد) وايه. همدا شان د پوځ رضاکاره برخه هم وه.

اميرالمؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه داسې اصول، قوانين او قواعد وضع کړل چې اوس هم په اعظمي حد له هغو استفاده کېږي، مسلمانان د بل چا پښو ته اړ نه دي. خو افسوس چې د اسلامي نړۍ واکمنان له پرديو قوانين را اخلي!

د يار صفت به مې تام نه کړم

که فردوسي طوسي له قبره راولمه!

اوس موږ لوی پوځ ته اړتيا لرو، بايد له عصر سره سم يې جوړ او په وسلو مجهز کړو، ځکه ټولې غزاګانې او فتوحات د انسانانو د مټ په زور شوي دي، داسې ډېر لږ پېښ شوي، چې دښمنان دې له جنګ پرته مغلوب شوي وي. د پوځ لپاره پرمختللې وسلې په کار دي. د اسلامي امارت پوځ بايد په وسله سر تر پښو سمبال وي او له هر څه نه وړاندې په اسلامي عقيده روزل شوی پوځ وي. تېر نظام په عقيده باندې روزلی نه و؛ ځکه خو په ۱۱ ورځو کې ړنګ او تار مار شو. بېشکه الله جل جلاله د پوځ او وسلې جوړولو امر کوي او وايي: «او تاسو تر خپلې وسې ډېر زيات قوت (ځواک) او تيار زين کړي اسونه د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. تر څو چې په دې وسيله د الله جل جلاله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو هيبت راولئ، چې تاسو يې نه پېژنئ، خو الله جل جلاله يې پېژني. د الله جل جلاله په لاره کې چې تاسو څه ولګوئ، د هغو پوره بشپړ مکافات به ستاسو لوري ته را وګرځول شي. او په تاسو به هيڅکله ظلم ونشي.» [توبه سورت ۶۰ ايت]

همدا شان رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه وخت د پرمختللې وسلې (منجنيق) د زده کولو لپاره اصحاب کرام رضي الله عنهم يمن ته ولېږل، څو هلته منجنيق زده کړي. هغه د امت واکمنانو ته داسې توصيه کوي: «ألاأن القوة الرمی، ألاأن القوة الرمی، ألاأن القوة الرمی))

ژباړه: «خبردار بېشکه ويشتل قوت دی، خبردار بېشکه ويشتل قوت دی، خبردار بېشکه ويشتل قوت دی» [ابو داود/ ۲۵۱۴]

اسلامي امارت ښه وسله وال لوی پوځ ته اړتيا لري، يوې لويې شورا جوړولو ته احتياج لري، هغه بايد له علماؤ، پوهانو او مخورو کسانو څخه جوړه کړو او د بهرنيو په اصطلاح له يادې شورا څخه د حکومت او نظام مشروعيت ترلاسه کړو. د شورى ترکيب بايد د علماو او پوهانو له خوا جوړ شي چې په مهمو چارو کې مشوره ورسره وشي. په ولايتونو کې د علماؤ کرامو شوراګانې نشته، د هغو د اختياراتو او واکونو زياتول په کار دي. محاسبين او د نهي عن المنکر مسؤلين بايد د هېوادوالو لپاره رحمت وي، د هغوی د ظاهر په ځای د هغوی عقيدې ته ډېر کار په کار دی.

# تبلیغاتي مبارزه څومره مهمه ده؟!

**حسان مجاهد**

رسول ﷺ چې له مشرکينو سره د سولې تړون لاسليکاوه، حضرت علي (کرم الله وجهه) ته وويل: وليکه ((دا تړون د محمدرسول ﷺ لخوا....)) کفارو وويل: له خپل نوم سره به (رسول الله) نه ليکې؛ ځکه که موږ چېرې ستا رسالت مانه، بيا دا جګړې ته څه اړتيا وه، رسول ﷺ حضرت علي رض ته وويل: (رسول الله ترې ايسته کړه! د اسلام دغه ستر مبارز وويل: والله که يې ايسته کړم! بيا رسول ﷺ خپله قلم واخيست او د (رسول الله) لفظ يې ترې ايسته کړ.

يهودو رسول ﷺ ته د (السلام عليکم) پر ځای (السام عليکم) وويل چې معنی يې «پر تاسو دې مرګ وي(( حضرت عائشې (رضي الله عنها) سمدستي ور غبرګه کړه (وعليکم السام ولعنة الله) پر تاسو دې مرګ او لعنت دواړه وي.

عقبه بن ابي معيط چې کله د رسول ﷺ په مبارک جسد د اوښې پريوان هغه مهال وغورځاوه چې دی مبارک الله تعالی ته په سجده پروت و، د جنتي ښځو سرداره فاطمه رضي الله عنها په منډه راغله هغه پرېوان يې ترې ايسته کړ او کفارو ته يې سختې خبرې وکړې.

حسان بن ثابت رض وويل: زه به د شعر په ژبه قريش وغندم، رسول ﷺ وويل: خو زه هم قريشي يم؟ حسان وويل: ستا خاندان(کورنۍ) به له شعره په داسې مهارت را جلا کړم لکه وېښته چې له اوړو را ويستل شي.

د احد په غزا کې چې شيطان غږ کړ((محمد ﷺ ووژل شو)) ابوسفيان غږ کړ: محمد شته؟ ابوبکر شته؟ رسول الله ﷺ وويل: ځواب مه ورکوئ، بيا يې غږ کړ: عمر شته؟ رسول الله ﷺ وويل ځواب مه ورکوئ خو عمر رضی الله عنه بې تابه شو او ويې ويل ای د خدای دښمنه! موږ ټول ژوندي يو! د حديبې په صلح کې د کفارو لخوا يو استازی راغی او د خبرو کولو پرمهال يې د رسول ﷺ ږيرې ته لاس کړ(لکه دا چې د هغه وخت يو دود و) يو صحابي چې د رسول ﷺ سر ته مجهز ولاړ دی، د جنګ خول يې په سر دی او څوک يې نه پېژني؛ دغه کافر ته يې وويل: دا نجس لاس دې د رسول ﷺ له مبارکې ږيرې ايسته کړه! کافر وپوښتل دا څوک دی؟ خلکو وويل: دا ستا وراره مغيره بن شعبه رض دی. دا د تبليغاتي مبارزې يو څو مثالونه وو.

د حق او باطل تر منځ مبارزه بېلابېل اړخونه او ډګرونه لري، چې يو له مهمو ډګرونو تبليغاتي ډګر دی، په دې ډګر کې يو لوری کولای شي د مخالف لوري په عقيده او فکر کار وکړي او ورو ورو يې خپل فکر او منهج ته را واړوي، له دې امله باطل پرستان له هغه حق پرسته فرهنګي کسانو ډېره وېره احساسوي، چې په تبليغاتي ډګر کې د اسلامي امت رهبري کوي او د باطل پر وړاندې مبارزه کوي، دوی يې د له منځه وړلو هڅه کوي، د رسنيز فعاليت مخه يې نيسي، د هرې خبرې په بدل کې يې برخورد ښيي او ژوند يې له محدوديت سره مخ کوي.

د ټولنيزو رسنيو فعالانو ته ښه معلومه ده، چې په ننني عصر کې رسنۍ د فکري جګړې يوه اهمه وسيله ګرځېدلې ده، د کفارو او ملحدينو لخوا د اسلامي امت په ځانګړې توګه د ښځو او ځوان نسل بې لارېتوب ته پوره کوشش روان دی، په اسلام، قرآنکريم، رسول ﷺ او اسلامي ارزښتونو ردونه کېږي، مسلمانانو ته په دين کې شکوک پيدا کېږي، اسلام د سخت دريځې دين معرفي کېږي، په اسلامي نظام د خلکو د بې باورۍ هڅه کېږي، دا کار د پراخو مالي لګښتونو پر مټ روان دی، هريو کس يې په مختلفو ادرسونو فعاليت کوي او هر ادرس يې په ميليونونو کسانو اتباع او څارونکي لري، چې دا نو د اسلامي امت د فکري بېلارېتوب ته خورا لوی کار کوي.

دا يو څرګند حقيقت دی، چې د مؤمن غفلت او د کافر وېښتيا او فعاليت اسلام ته ډېر زيان اړوي، موږ ته لازمه ده، چې د صحابه کرامو په څېر تبليغاتي مبارزه وکړو، په اسلام، پيغمبر او قرآنکريم باندې، چې هر نقد کېږي موږ بايد ونه وايو، چې په دې سره خو نقد کونکی کافر شو او له کافرانو څه ګيله ده؟ د نقد کونکي کفر ته بايد ونه ګورو، دې ته بايد وګورو چې نقد يې په ساده ذهنه مسلمانانو څومره لوی اغېز وکړ او شايد د کافر دغه نقد سبا د مسلمان د کفر سبب شي.

رسنيز وسائل موږ هم لرو، باطل پلويان يې هم لري، خو دوی يو ډول فعاليت کوي او موږ بل ډول، دا رسنيز وسائل دي، چې نن يې عام ځوانان څه، چې اکثره ديني عالمان او زدکوونکي له هدفه را وګرځول او په ځای د دې چې له حق دفاع وکړي، په حق کې د شک پيداکونکو ښکار شو.

نن له يو داسې حال سره مخ شوي يو، چې ماښام يو څوک کور ته په داسې حال کې د ننه شي، چې له اسلامي نظامه پوره خوښ وي، خو سبا په داسې حال کې له کوره را وزي چې په نظام پوره بې باوره او په خلاف يې ښه چارج شوی وي، دا شان يو څوک ماښام کورته مسلمان ننوزي، خو سبا ته د الحاد او معاصر جاهليت ښکار شوی وي او له کوره کافر را وزي؛ آيا په نظام کې لوړ رتبه او واکمن کسان خبر دي، چې زما ملت په کورنو کې څه ګوري او د غربي رسنيو په نتيجه کې ورځ په ورځ د ګمراهۍ په لور روان دي که د حق په لور؟!

نن که کفارو له اسلامي خاورې خپلې پښې سپکې کړې دي، په فکري لحاظ اوس هم زموږ په مسلمان ملت باندې پوره تسلط لري او تر څار لاندې يې ساتي.

اسلامي حکومت مسؤل دی، چې د تبليغاتي مبارزې وسائل عام کړي، په هېواد کې د نورو پروژو تر څنګ په تبليغاتي ډګر هم پراخ لګښتونه وکړي، تبليغاتي مبارزې ته ځوانان وروزي او فعالو مبارزينو ته د ژوند ضروريات برابر کړي، رسول الله ﷺ د خپل عصر هر شاعر او مبارز هڅولی دی او حضرت حسان رض ته يې د کفارو پر ضد د شعر ويلو پرمهال منبر برابر کړی دی.

# راهکار های پیشرفت اجتماعی

**پوهیالی نعیم جان (ستانکزی)**

پیشرفت اجتماعی کشور وابسته به میزان بهبود شرایط زندگی و رفاه ساکنین کشور در خصوص جامعه دارد، ارتقاء سطح سواد و تحصیلات، توسعه حقوق انسانها، کاهش فقر و بحران های اجتماعی، افزایش شفافیت و وسعت زیر ساخت های اجتماعی و بهبود تامین امنیت اجتماعی مربوط است ؛ این فعالیت ها و پیشرفت ها میتواند از طریق تحولات اقتصادی و تغیرات فرهنگی و مروج ساختن عدالت اجتماعی وغیره به دست آید .

وسعت دادن زیرساخت های اجتماعی : وسعت زیرساخت های اجتماعی شامل اقداماتی است که بهبود شرایط زندگی و رفاه اجتماعی ساکنان جامعه را هدف قرار دهد که میتوان این اقد امات را شامل موارد زیرین نمایم .

تعلیمات و تحصیلات ؛ توسعه سیستم تعلیمی و ارتقاء و بلند بردن سطح سواد جامعه ، افزایش دسترسی به تحصیلات و بهبود و ارتقاء کیفیت تعلیم .

معالجه و ارائه خدمات طبی : سرمایه گزاری درسیستم طبی ، تداوی ، علاج و دسترسی به خدمات طبی و بهبود شرایط حفظ الصحه وی جامعه .

سکونت و اسکان : فراهم سازی فضای مناسب برای رهایش و ارتقاء شرایط سکونت به افراد جامعه و تامین امنیت اجتماعی ، حمایت از افراد آسیب پذیر و کاهش میزان فقر و بیکاری در کشور.

مساعد ساختن زمینه ورزش وتفریح : ارتقاء فضای ورزشی ، تفریح گاها و مروج نمودن فعالیت های سالم بدنی و صحت؛ توسعه زیرساخت های اجتماعی که باعث افزود کیفیت زندگی جامعه ، افزایش رضایت شهروندان کشور و پایداری جامعه می شود.

فراهم سازی زمینه بهتر زندگی ، میتواند از طریق ایجاد شرایط و فرصت های شغلی صورت پذیرد که از آن جمله میتوانیم به موارد زیرین اشاره کرد .

توسعه اقتصادی؛ ایجاد فرصت های اشتغال ، افزایش درامد ها و کاهش تفاوت های اقتصادی میتواند به بهبود شرایط زندگی تمام افراد جامعه کمک نماید.

دسترسی تمام اتباع کشور به تعلیم و تحصیل: فراهم نمودن شرایط بهتر تعلیمی برای تمام افراد جامعه ازتعلیمات ابتدایی ، حرفوی ، تحصیلات عالی و نیمه عالی میتوان به توانمند سازی و بهبود شرایط زندگی افراد یک کشور کمک نماید، حمایت اجتماعی ؛ رواج نمودن حمایت اجتماعی و تقویت روابط اجتماعی مثبت میتواند به بهبود صحت روانی و افزایش رضایت ساکنین کشور از زندگی بهتر کمک کند.

دسترسی به شفاخانه ها و کمک های طبی ؛ ایجاد تسهیلات و دسترسی به خدمات طبی از جمله شفاخانه ها ، کلنیک ها ، دواخانه ها و سایر خدمات طبی را می توان به بهبود سلامت جسمی و روحی افراد کمک کرد.

حفظ محیط زیست : حفظ منابع طبیعی ، کاهش آلودگی هوا و رواج دادن روش های پایدار محیط زیست میتواند به بهبود شرایط خوب و سلامتی ساکنان کشور مدد نماید، با استفاده ازین روش ها ما میتوانیم به فراهم سازی زمینه بهتر زندگی برای همه ساکنین و جامعه پرداخت و در نتیجه بهبود شرایط زندگی و رضایت بالاتر رابرای شان فراهم سازیم.

تشویق به اشتراک در فعالیت های اجتماعی ؛ میتواند به تمامی ما و شما در جامعه کمک نماید که این نوع فعالیت ها شامل کارکرد های کوچک مانند داوطلبی دربرنامه های خیریه ویا به خاطر پاکسازی محیط زیست ( محل سکونت) شروع به فعالیت های بزرگ مانند: فعالیت های مربوط به حقوق شهروندی، محیط زیست و تعلیم وغیره میباشد که ما به خاطر تشویق بیشترساکنین کشور به اشتراک در فعالیت های اجتماعی موارد زیرین را پیشنهاد مینمایم :

افزایش ارتباطات اجتماعی؛ شرکت در فعالیت های اجتماعی می تواند به همه ما وشما کمک کند تا باهم دیگر ارتباطات جدید را برقرار نمایم و با افراد و اشخاص جدید آشنا شویم که این نوع ارتباطات می تواند در بخش های حمایتی و همکاری با ما و شما موثر واقع شود .

افزایش رضایت شخصی : مشترک شدن در فعالیت های اجتماعی می تواند تغییرات مثبت در جامعه کمک کند و تاثیرگزاری داشته باشد؛ که تاثیر گزاری مثبت با اشتراک در فعالیت های اجتماعی میتواند به تغییرات مثبت در جامعه تاثیر گزار باشد و هم چنان توسعه مهارت های اجتماعی نیز در فعالیت ها میتواند مدد رسانی کند تامهارت های ارتباطی ، همکاری و رهبری خود را تقویت نمایم .

بهبود اشتراک جامعه ، با اشتراک در فعالیت های اجتماعی می توانید به بهبود شرایط جامعه خود همکاری نمایم تا ما یک جامعه سالم تری عاری از هر نوع مشکلات اجتماعی داشته باشیم ، بنابر این تشویق برای اشتراک در فعالیت های اجتماعی نه تنها به شما بلکه برای ترقی و پیشرفت جامعه نیز موثر است.

## غزل

**حکیم سنایی غزنوی (رح)**

ای سنایی جان ده و در بند کام دل مباش
راه رو چون زندگان چون مرده بر منزل مباش
چون نپاشی آب رحمت نار زحمت کم فروز
ور نباشی خاک معنی آب بی حاصل مباش
رافت یاران نباشی آفت ایشان مـــشو
سیرت حق چون نباشی صورت باطل مباش
در میان عارفان جز نکتهٔ روشن مگـــوی
در کتاب عاشقان جز آیت مشکل مباش
در منای قرب یاران جان اگر قربان کـنی
جز به تیغ مهر او در پیش او بسمل مباش
گر همی خواهی که با معشوق در هودج بوی
با عدو و خصم او همواره در محمل مباش
گر شوی جان جز هوای دوست رامسکن مشو
ور شوی دل جز نگار عشق را قابل مباش
روی چون زی کعبه کردی رای بتخانه مکن
دشمنان دوست را جز حنظل قاتل مباش
در نهاد تست با تو دشمن معشوق تو
مانع او گر نه‌ای باری بدو مایل مباش

## قناعت

**شاه محمود درویش**

زه په دې فخر کـــــــومه چې انسان یم
شکرشکر چې رښتینی مسلـــــــــمان یم
دا په ماهـــــــــم د الله (ج) مهرباني ده
زړیـــدلی چې په کـــــورکې دافغان یم
مــــیړنتوب کې مې مـــــثال په دنیا نشته
زه د ســــتروکارنامو یو قــــــهرمان یم
د چا حـــــق باندې تیری هېڅکله نه کـــړم
هریو حکم ته زه ژمن د پاک قــــــرآن یم
د چا ظلم ته مې سرتیټ کـــــــړی نه دی
فطرتي داسې هست کــــړی پاک سبحان یم
آزادي زمـــــا لیـــلا زه یې مجــــنون یم
دغه مینه کې زه تیر تـل له خــــــپل ځان یم
دغه لاره کې آزمــــوینه ما ورکـــــــــړې
په تــــــاریخ کې تل فاتـــح ددې میدان یم
د نړۍ هریرغلګرمې ګـــــونډه کـــــــړی
دغــــــه کار کې نـــــړیوالو ته عیـــان یم
که څوک بیا مې کـــوږ نظر مالـــت ته وکړي
زه په داسې دښمن تـــندر د آســــــمان یم
ګاونــــــډیان دې ګاونډوب راســــره پالي
حســـــن نیت ته یې د ښـــــه نیت په بیان یم
نـــــړیوال دې هم په کـــــم نظر نه ګـــوري
زه لمسی د (احمدشاه) تراوسه ځــــــوان یم
که څوک شومــــې موخې مــــوږ لپاره پالي
بیا یې دوه دیـــــرش غـــــاښونو ته ســـــندان یم
چل، دوکه ، ظلـــــــــــم او زیاتی منلی نه شم
زه د حــــــق او حقیقــــــــــت په لار روان یم
ای درویـــــشه په خپل حـــــــــق قناعت ښه دی
زه د بل حق کې خــــلاف دهـــــــــر زیان یم

# د حجاب اړوند د شبهاتو جوابونه

**مولوي نورالحق مظهري**

لسمه‌شبهه
